PROPERTY OF ACKU

سال تاسیس ۱۳۷۹هـ ش

اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال سوم شماره دوم
شماره مسلسل ۸۳
یکشنبه ۸ جدی ۱۳۸۱ هـ ش
۲۵ شوال المکرم ۱۴۲۲ هـ ق
۲۹ دسمبر ۲۰۰۲ م

د فواید عامی وزیرځه وایی!

د ایکو په غونډه کې به، هېواد ته د اورګاډي د پټلیو د غزولو په امکاناتو خبرې اترې وکړو

د هېواد د بیا رغاونې په چارو کې د فواید عامې د وزارت د کارونو څخه د هېوادوالو د خبرولو په خاطر د "ارادې" د ورځپاڼې خبریال ددغه وزارت د وزیر ښاغلی ډاکټر علی سره مرکه کړېده چې د ګرانو لوستونکو پاملرنه ورته را اړوو.

د معمول تعارف څخه وروسته

د فواید عامې وزیر پوښتنې مو څه دی او له کومه ځایه به یې پیل کوئ؟

خبریال: زمونږ هېوادوال ډېر لیواله دی چې د هېواد د بیا رغاونې د کارونو او په دغه هکله د پرمختګونو څخه خبر شي، پوښتنه هم، همدا ده چې ستاسو وزارت په دې برخه کې څه تر سره کړي او څه غواړي تر سره یې کړي.

د فواید عامې وزیر مخکې له دې څخه چې د پوښتنې خواب ووایم د یوه ټکي تذکر ضروري بولم او هغه دا چې د هېوادوالو غوښتنې او توقعات د انتقالي اسلامي دولت له اداري څخه خورا زیات دی، او زه خپل هېوادوال ددغو غوښتنو مستحق هم بولم، ځکه په هېواد کې درویشت کلنې جګړې زمونږ هر څه د خاورو سره خاورې کړېدي، اوهېوادوال حق لري چې وغواړي، سړکونه دې جوړ شي، مکتبونه دې جوړ شي، کلینیکونه دې جوړ شي، د بریښنا، اوبو رسولو او په لس ګونو او سل هاوو نورې همداسې معقولې او پر ځای غوښتنې.

خو واقعیت دادی چې په لسو

۴ مخ

عاقبت در حاشیه گذاری مردم خیر نیست

وقتی مقاومت، تجاوز را شکست، مردم در حاشیه قرار داده شدند.

همان مردمی که با اعزام فرزندان جوان شان مقاومت را تشکیل داده بودند، همان مردمی که با تقسیم خوراک و پوشاک شان، مقاومت را تقویه کرده بودند که نقطه بلند افتخار آن، قبول ارتش سرخ بود، بر یهودگی ماندنش در سر زمین افغان ها و این نکته که رفتن ثمر بار تر است تا ماندن که مرگبار، درست زمانی که مردم می

ص ۴

ایډوانیو طالب والکمنو خپلې خالې پاکستان ته وړې دي

د هند د کورنیو چارو وزیر لال کرشنا ایډواني وایي چې طالبانو خپلې خالې پاکستان ته وړې دي او هلته یې نوې تروریستي اډې جوړې کړې دي.نومورې وویل چې نړېوال باید دغه پرمختګ په دقیقه توګه وڅاري او که نه نو وروسته دې بدې پایلې وګالي.

نامه ی سرگشاده

عنوانی جناب وزیر آب و برق

کار توزیع غیر عادلانه انرژی برق در شهر کابل به جای کشیده است که اکنون موظفین جکشن ها و برج های برق بادستان آزاد به فروش برق مبادرت می ورزند.

توزیع امتیازی و تعصب آمیز انرژی برق در شهر کابل نه تنها به کار آیی صداقت اداره انتقالی لطمه شدیدی وارد نموده است بلکه صلاحیت این اداره را در تامین عدالت اجتماعی و اجرا و رعایت قوانین نافذ در کشور زیر سوال قرار میدهد.

ص ۴

د غازو د نل لیکې ټرون لاسلیک شو

افغان ولسمشر حامد کرزي، ترکمن ولسمشر صفر مرادنیازوف او پاکستاني لومړي وزیر میرظفرالله خان جمالي د جمعې په ورځ د ترکمنستان په پلازمینه عشق آباد کې د غازو د نل لیکې پروژې ته قانوني بڼه ورکړه. دا یوه ستره پروژه ده چې د هغې له مخې به د ترکمنستان د دولت آباد غاز د افغانستان له لارې د پاکستان د ملتان بنار ته د نل لیکې په مټ رسول کېږي.

دغه نل لیکه ۱۵۰۰ کیلو متره اوږدوالي لري چې ۷۵۰ کیلو متره یې اوږدوالي به د افغانستان په خاوره کې غزېدلي وي.

پر دغې پروژې به دري عشاریه دوه میلیارده ډالره لګښت راځي ددغې پروژې په عملي کېدو سره به افغانستان ته یوه ستره مالي ګټه ورسیږي. د دولس زړه کسانو په شاوخوا کې به په کار بوخت او هر کال به تر ۳۰۰ میلیونه ډالرو افغانستان ته مالي ګټه ورسیږي.

هیله کېږه د هغه ډله ځېرونکو د سروې کار د دوه زړه دریم میلادي کال تر جون پورې بشپړ شي، او د همدې کال په اخر کې د پروژې کار عملي بڼه غوره کړي. ترکمنستان د نړۍ په سطحه د غازو د زیرمو د اهمیت له کبله پنځم هېواد دی. دا چې ددغې هېواد اقتصاد ویجار دي دا هېواد هیله لري. چې خپل غاز د نړۍ مارکیټ ته ورسوي. په ۱۹۹۴ میلادي کې روسي ترکمنستان دې نه نه پرېښود چې خپل غاز د روسي له لارې نړېوال مارکیټ ته ورسوی.

ضروري یادونه

دتیري ګڼې په څلورم مخ کې د ارادې د امتیاز د خاوند او د افغان نشراتي مرکز د مشر ښاغلی حاجی سید داود په مرکه کې، سوالونه او خوابونه مخکې او وروسته شویدي. هیله من یو چې ګران لوستونکی او ښاغلی حاجی سید داود به زمونږ دغه طباعتي تیروتنه وبښي.

اداره

در حاشیه افتتاحیه مشترک دوزیه های مختار حامد

ص ۲

گامی در جهت یاری با مطبوعات آزاد

مطبعه مرکز نشرات افغان با طبع اولین شماره روزنامه اراده، درکابل شروع به فعالیت کرد.

در محفلی که بدین مناسبت در دفتر مرکز نشرات افغان تدویر یافته بود محترم پروفیسور رسول امین رئیس مرکز مطالعات افغانستان و عده یی از نویسنده گان و ژورنالیستان داخلی و خارجی اشتراک ورزیده بود.

مطبعه با قطع نوار توسط رئیس مرکز مطالعات افغانستان افتتاح و با چاپ اولین شماره روزنامه، اراده عملاً به فعالیت طباعتی در کابل آغاز نمود.

محترم حاجی سید داود رئیس مرکز نشرات افغان در رابطه با چگونگی کار و ماشین آلات مطبعه مربوط گفت:

ماشین آلات مطبعه از کشور های آلمان، سویدن و پاکستان وارد گردیده و هدف از فعالیت آن سهم گیری فعال در عرصه چاپ و نشر مطبوعات آزاد و رفع مشکلات که از ناحیه چاپ موارد مورد ضرورت شهریان کابل در شهر وجود دارد میباشد.

خبرنگار اراده گزارش میدهد.

مطبعه مرکز نشرات افغان دارای یکپایه ماشین طباعتی نوع اولاند میباشد که ظرفیت هفت هزار داپ در یک ساعت را دارا بوده و از کیفیت عالی چاپ برخوردار است.

مطبعه امـــاده پذیرش هر نوع فـــرمایشات طبـاعـتی هموطنان عزیز در عرصه چاپ روزنامه ها، جراید، مجلات و کتب میباشد.

اراده



دلوی او ښبونکی خدای په نامه

سرمقاله

دغازو د نل لیکې لیږدول سیاسي اړخ لري که اقتصادي؟

د روان کال د مرغومي په پنځمه او شپږمه د افغانستان، پاکستان او ترکمنستان د هېوادونو د مشرانو تر منځ غونډه جوړه شوې وه. پدې غونډه کې د ترکمنستان څخه د غازو د نل لیکې د لیږدولو کار د افغانستان له لارې د پاکستان ملتان سیمې ته تصویب شو. ددې پروژې عملي کول د افغانستان ولس او هم د سیمې هېوادونو ته ښه زیرې ګڼل کېږي. ځکه ددې پروژې په عملي کولو کې د لسو څخه تر دولسو زرو افغانانو ته کار او افغانستان ته په کال کې د سلو څخه تر دری سوه میلونو امریکایي ډالرو پورې ګټه رسیږي د ټولو نه ستره ګټه داده چې په سیمه کې امنیت او د نړۍ هېوادونو ته د پانګې اچولو زمینه برابریږي.

ددې ستر پروژې د پیل د مخه د افغانستان چارواکي باید د سیمې او د نړیوالو د پاملرنې وړ تکي هم په پام کې ونیسي، ځکه د یو نیکال د کمپنۍ پاتې هلوځلو د ۱۳۷۵ او ۱۳۷۶ کلونو په بهیر کې دا وښوده لومړی: طالبانو ددې امریکایي کمپنۍ د نوم څخه د جګړې په ډګر کې ګټه پورته کوله او عام ولس ته یې داسې روحیه ورکوله چې امریکائیان د خپلې کمپنۍ د بریالیتوب لپاره غواړي طالبان په ټول افغانستان حاکم کړي. یونیکال هم د ۱۳۷۶ کال په اوږدو کې د امریکې د نبراسکا د پوهنتون په مرسته په پیښور او کابل کې دفترونه او کندهار کې د روزنې مرکز پرانیست ددې فعالیتونو په نتیجه کې د طالبانو جنګي مورال نور هم قوي شو.

دویم: د پاکستان دولت د طالبانو سره د ملاتړ په خاطر د یونیکال د پروژې سره همکاري ښوده که څه هم ددې هېواد ځینو نورو کړیو د بینظیر بوتو د خاوند آصف زرداری په استازیتوب د ارجنتاین د بریداس د کمپنۍ سره توافق کړې و، خو په هر صورت پاکستان د سیاسي دلایلو په بنسټ ددې پروژې په پیل کولو خوښ و.

دریم: د ایران او د روسي هېوادونو د خپلو ګټو پر بنسټ د یونیکال او په ټهره بیا د ترکمنستان څخه د غازو د نل لیکې د لیږدولو سره د افغانستان له لارې خپل مخالفت ښکاره کاوه.

۲ مخ

د کابل اعلامیه د سولې او ثبات په لور یو مهم ګام

د هېواد په مرکز د کابل د ښار د بهرنیو چارو په وزارت کې د افغانستان او د شپږو ګاونډیو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو په برخې اخستلو سره د ښه ګاونډیتوب او د یو بل په کورنیو چارو کې د لاس نه وهلو عالي غونډه د یوه پرېکړه لیک په صادرولو سره پای ته ورسیده.

په دې عالي غونډه کې چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سر منشي د خانګرې استازي لخدر ابراهیمي په ګډون جوړه شوې وه، د افغانستان تیراو اوسني حالات په ژوره توګه وڅېړل شول او په ټینګار سره په دې جنګ خپلې هېواد کې د سولې او ثبات پر ضرورت هر اړخیز بحث او خبرې وشوې.

افغانستان د آسیا د زړه په توګه هغه هېواد چې که کوم وخت د ځینو کورنیو او بهرنیو عواملو له امله له ګوابښ سره مخامخ شوی دی، نو ورسره ټوله آسیا او په عامه توګه ټوله نړۍ، بې ثباته شوې او منفي اثرات یې تر ډېره لرې پورې رسیدلی دي، خو که دغه هېواد با ثباته وي، د امن له نعمت څخه برخمن وي او د سوله ییز ژوند بهیر په کې روان وي، نو ورسره ټوله نړۍ په خانګړې توګه ګاونډي هېوادونه آرام او با ثباته وي، علامه اقبال ددغه تکي په نظر کې نیولوسره لاپخوا ویلي وو چې:

آسیا یک پیکر آب و گل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
در گشاد آن کشاد آسیا
در فساد آن فساد آسیا

هو! د بدن زړه چې دردمن وي او ناروغ وي نو د انسان وجود بیا هغه شان فعالیت نه شي کولای څنګه چې لازمه ده او بالاخره وډېږي، خو که زړه فعال وي، روغ وي او خپل فعالیت په سمه توګه سرته رسولای شي، نو بیا دانسان د بدن نور غړي هم خپل وظایف په فعاله توګه سرته رسوي او روغتیایي حالت یې د داډ وړوي که چېرې د تېرو څه د پاسه دوو لسیزو حالات په پام کې ونیسو او په دې موده کې دافغانستان جریانات ارزیابي کړو نو زمونږ د پورتنۍ ادعا د ثبوت لپاره یوه ښه بېلګه ده، څکه په دې څه د پاسه دوه لسیزو کې چې افغانستان د جنګ او جګړو ډګرو نو ورسره ګاونډیان، آسیا اوټوله نړۍ هم متاثره وه چې منفي تاثیرات یې اوس هم محسوس دي.

کرغوړي امن او ثبات په کې حاکم وي نو په افغانستان کې د امن او ثبات په ټینګښت او دوام دې فکر وکړي، ددې پر ځای چې زمونږ په هېواد کې د خپلو ګټو پر بنا لاس وهنې وکړي د سیمې ا ونړۍ عمومي حالات دې په پام کې ونیسي او د شخصي اغراضو پر ځای دې عمومي ګټې غوره وبولي چې په دې کې د ټولو ګټه ده څکه زمونږ د هېوادونو ګټې او زیانونه له یو او بل سره تړلي دي چې په تیرو څه د پاسه دوو لسیزو کې مو دغه تاثیرات پخپلو سترګو ولیدل.

خو که دسیمې هېوادونه او نړیواله ټولنه زمونږ د هېواد د امن او ثبات په اړه هر څومره ژور فکر هم وکړي بیا هم پخپله زمونږ د افغانانو د مسولیت احساس زیات محسوس دی ځکه بیا هم که مونږ ونه غواړو په هېواد کې مو سوله او ثبات دوام ومومي نو دغه ټولې سیمه ییزې او نړیوالې هڅې به هغه شان نتیجه ورنه کړي لکه څنګه چې ورځخه تمه کېږي، نو په دې اړه زمونږ مسولیت خورا درونه او د اهمیت وړ دی او مونږ ته لازمه ده چې تر هر څه د مخه خپلې ملي ګټې په پام کې ونیسو او هغه لاز خپله کړو چې زمونږ د نیکمرغۍ او خوشبختۍ متضمنه ده.

غروال

تروریزم د ودې په حال کې

د القاعدې یو وتلي غړي یوې عربي ورځپاڼې ته په کویټ کې ویلي و چې القاعده د اسامه یا کوم بل مهم غړي او مخکښ په نیولو یا وژل کېدو سره نه محوه کېږي ځکه القاعده د انګور د وړې په شان ده چې د یوه یا څو دانو انګورو په شکېدلو سره وړې ته څه زیان نه رسیږي، که سړی د القاعدې د ویاند دغې خبرې ته ښه فکر وکړي نو په ریښتیا چې سړی حیرانوي. د سپتمبر له ۱۱ نېټې وروسته کله چې امریکا او نړیوالې ټولنې د تروریزم پر ضد او په خانګړې ډول په القاعده او طالبانو پسې را واخیسته، ولس مشر بوش د حملې له پیل کېدو مخکې وویل: "د سپتمبر تر راتلونکې یوولسمې نېټې پورې باید زه اسامه بن لادن مړ یا ژوندی وګورم." خو دادی د سپتمبر ۱۱ مه نېټه څه باندې یوه میاشت مخکې تېره شوه خو تر اوسه امریکایي خواکونه، خفیه قواوې او F.B.I تر اوسه په دې نه دي بریالي شوي چې د بن لادن د مړ ژوندي او خان خایګي پته ولګوي.

خو میاشتې مخکې د فرانسې د استخباراتي ډلګي یوه مامور ویلي و چې کېدلای شي بن لادن مړ وي او جسد یې د امریکایانو په لاس کې وي خو امریکا د خپلو ګټو د مصلحت پر بنا پټ کړي. خو د فرانسوي مامور د اخبرې څخه د اعتبار وړ نه دي چې دوه میاشتې مخکې بن لادن خپله د یوې ویډیویي کسټې له لارې وغږېدو چې دا کسټ دالجزیرې تلویزوني چینل خپور کړ.

دا چې اسامه مړ دی که ژوندی؟ چېرته دی؟ تر اوسه یوه بې خوابه معما ده. خو دا چې د تېر یو کال په اوږدو کې تر وریزم څومره ضعیف شوی؟ د نړیوالې ټولنې او دامریکا د تروریزم جګړه څومره بریالی ده او څه لاسته راوړنې، یې درلودې؟ دا هغه پوښتنې دي چې اوس، اوس د نړیوالو او په خانګړې ډول د امریکایانو د بحث او څېړنې توده موضوع ده.

که سړی فکر وکړي او دافغانستان له خلکو پوښتنه وکړي چې د امریکا اوسني پالیسي د افغانستان په اړه څومره ښه او بریالي ده؟ نو بوږنوونکي خوابونه به واوري. خو په هر حال افغان اولس هغه اولس دي چې لاتر اوسه په سیاسي سیستم کې د شریکېدو هېڅ حق نه لري. دا هغه اولس دي چې لاتر اوسه د هېواد په سیاسي چارو کې د برخې اخیستنې هېڅ چانس نه لري. دا چې د تروریزم پرضد نړیواله جګړه یوه نړیواله موضوع ده. هو داسې موضوع چې امریکا یې خپل خانته په څو جبهو کې د جنګېدلو جګړه بولي. خو دا چې دا جګړه څومره پر مخ تللې ده زمونږ په ذهن کې ګونګې خوابونه خای نیسي.

په منځنۍ ختیځ کې د خان مرګو بریدونو بې برېده کېدل، په پاکستان کې په امریکایي او غربي اتباعو حملې چې د مرګ زیان یې هم درلود، د اندونیزیا په بالي کې خان وژونکی برید او د سلګونو کسانو مرګ، په کویټ کې په امریکایي عسکرو حمله، د افغانستان دننه په امریکایانو او بهرنیو خواکونو بې شمېره حملې دا هغه څه دي چې دا خبره له سوال سره مخامخ کوي چې وایي "القاعده او تروریزم د محوه کېدو مهال ته نږدې دي" د سپتمبر له یوولسمې نېټې وروسته د خان مرګو بریدونو بې برېده کېدل امریکا او غرب ته یوه بوږنوونکي خبره ده. خو میاشتې مخکې News week د منځنۍ ختیځ په اړه یو رپوټ ګڼلی و چې په هغې کې یې په اسرائیلو کې د خان مرګو برېدونو یادونه کړېده او دا چې څومره یې څه ګڼلي دي چې کولای شي امریکا، غرب او ددوی ګټو ته خورا جدي ګواښونه را پیدا کړي.

د پخوا په پرتله په تېر یو کال کې تروریستي حملې زیاتې شویدي، خان مرګي بریدونه بې شمېره شوي دي. خو امریکا و ایي چې تروریزم او القاعده، دړې وړې شوي دي. د بوش د اداري دا خبره نش د امریکا ملت ته د تسل خبره ده او تروریزم ددې ټولو نړیوالو هڅو سره سره، دودې طلایي چانسونه لري.

رحمت الله کرئر

د کابل پوهنتون به په ۱۳۸۲ مش کال کې څنګه وي؟

په هیواد کې د طالبانو دواکمني په سقوط سره له یوې خوا د ښوونځیو ترل شوي دروازې د نجونو او هلکانو پر مخ پرانستل شوي او له بلې خوا زمونږ په لك هاو مهاجر بیرته خپل هیواد ته راستانه شول چې په دې کار سره په روان تعلیمي کال کې د مرکز او ولایتونو لیسې او ښوونځي که د کیفیت له پلوه په صفر کې وي خو د کمیت په لحاظ په نسبتاً ښه حالت کې وي او ټولو لیدل چې ان د هیواد په لرې پرتو سیمو کې هم زده کوونکو (نجونو او هلکانو) په زیات شوق او مینې سره د ښوونځیو په لور مخه کړې وه او په ښوونځیو کې د زیاتو مشکلاتو باوجود دلوست چاري رواني وي.

هو: که له یوې خوا په هیواد کې د ښوونې او روزنې غوړیدل د خوشحالي سبب او د نیکمرغه راتلونکي زیري راکوي له بلې خوا یو شمیر مسولیتونه هم را په غاړه کوي چې باید له همدا اوس څخه ورته کلکه توجه او پاملرنه وشي او یو منظم پلان ورته جوړ کړي شي.

په تیره بیا د لوړو تحصیلاتو دوزارت بیلا بیلې ځانګې باید په راتلونکي کال کې یو ستر چلنج ته بشپړه امادګي ولري څکه د ډیرو تیرو کالو په پرتله به د لیسوګڼ شمیر فارغان د لوړ و تحصیلي موسسو په خوا ورمات شي.

په دې لړکې به له ټولونه زیات د کابل پوهنتون مسولیتونه درانده او د ټولو د پام وړ وي.

په ۱۳۸۱ کال کې د کابل پوهنتون زیاتې نیمګړتیاوې لرلې. که له یوې خوا نا مساعدو شرایطو کې په دې نیمګړتیاوکې رول لازه له بلې خوا د لوړو تحصیلاتو د وزارت او د کابل پوهنتون د مقاماتو سهل انګاري ، بې پروائي او ډیرو مهمو اوحساسو مسئلو غیر مسولانه چلند ونه هم پکې شامل وو.

په پښتو ژبه کې متل دی چې وایي: "سړي پایځې له غمه سړي وي" په دې معنی چې که د وزراتونو، ریاستونو او لوړو مقاماتو څوکۍ او امتیازونه ښه خوند لري خو دهغوی د مسولیتونو سرته رسول او پرستیژ ته پام لرنه او توجه هم ساده خبره نه ده، عاملیت غواړي. فهم او درایت غواړي، زغم او شکیبایي غواړي او له ټولو مهمه دا چې کار او زحمت غواړي. چې له بده مرغه په تیر تعلیمي کال کې لکه څنګه چې شاید او باید وای ورته پاملرنه نه وه.

که څه هم چې سړی نشي کولې مسولین وچ په وچه له مړی را ونیسي او په اصطلاح ورځخه معجزی وغواړي څکه څه د پاسه شلوکالو جنګ جګړو او په بېلابېلو ګوندونو، تنظیمونو او ډلو ټپلو پورې مربوطو مسلطو کلتورونو زمونږ یو شمېر تعلیم یافته او ان رون اندو هېواد والو ته هم جنګي مزاج، خوی اوعادت ورکړی او فکر کوي چې یوازې زور اوټوپک کولې شي مشکلات را حل کړي او د اروابناد استاد بینوا خبره سوتې مستی او چمچه مستی مو یو ډول کلتور ګرځېدلی دی، چې دا ډول کلتور په تېره تېره په علمي او اکاډمیکو چارو کې هېڅ چلند نه لري. په هر ځای خو مخصوصاً په علمي او اکاډمیکو چارو او تعلیمي چاپیریال کې عالمانه عمل او کړه وړه، پوهه او علمیت تاکونکی رول لري.

اوس که د کابل پوهنتون د تیر کال تعلیمي، فرهنګي او اداري چارو ته یو ځغلند نظر واچول شي کېدای شي لاندې نیمګړتیاو ته ګوته ونیول شي.

په تعلیمي برخه کې: د استادانو لکچرنوټونو او کتابونو کمښت هغه اساسي ستونزه وه چې د تعلیمي کل تر پایه پورې ټول استادان او زده کوونکی ورسره مخامخ وو او د کابل تلویزیون خبره چې که زده کوونکی څخه کتاب منفی کړي نو څه به پاتې شي؟

که په ۱۳۸۲ هـ ش کال کې بیا هم د مجربو استادانو کمښت او بیا هم د کتابونو او لکچرنوټونو نشتوالی دهېواد په دغه یوازنې ستر علمي مرکز کې دوام وکړي دا به بیا له مسولینو له بې کفایتۍ او بې توجهۍ پرته بله هېڅ توجیه ونلري.

په فرهنګي برخه کې: یو وخت د کابل پوهنتون یو فعال نشراتي مرکز لاره چې د ببلابېلو پوهنځیو له پاره یې د هغوی په اختصاصي او تحقیقي مجلو او جرېدو سره بېره لکچرنوټونو، مو نوګرافونه، داستادانو د علمي څېړنو آثار او نورو داسې کتابونه چاپول چې له پوهنتون څخه بهر محققینو او څېړونکو هم ورڅخه استفاده کوله چې اوس دغه مرکز د تېر وخت په پرتله په هېڅ کې شمېرل کېږي. دغه راز د کابل پوهنتون مجهز کتابتون او د ببلابېلو پوهنځیو لابراتوارونه نه یوازې د پوهنتون د استادانو اومحصلینو د غوښتنو خواب ګویه وو بلکې ګڼ شمېر محققینو او څېړونکو او مینه والو هم خپل مشکلات په دې علمي مرکز کې حل کول خو اوس د هغو حالت د کلکې پام لرنې او توجه وړ دی چې له بده مرغه په تېر تعلیمي کال کې ورته چندان کار نه دی شوی.

په اداري برخه کې: د ترانسپورتیشن، مرکز ګرمي، د استادانو د معاشونو او مادي حقوقو مسایل هغه نور مشکلات دي چې خدای دي وکړي په ۱۳۸۲ کال کې د حل عاجله لاز ومومي.

د پوهنتون لیلیه، د لیلیه محصلینو د اعاشې او اباتی، د هغوی له پاره د چپرکټونو او بسترو او مناسبو او آبرومندانه خوړو مسایل هم دقت، پاملرنه اومواظبت غواړي، د محصل غوښتنو ته غوږ نیول او دهغو د قناعت حاصلول عامل تجربه لرونکی، زړه سوانده او دوطن له راتلونکی سره مینه ناک مسولین غواړي.

دکابل پوهنتون د ۱۳۸۱ کال ۴ مخ

در حاشیه اعلامیه مشترک موزیم های معتبر جهان

مطبوعات داخل کشوری اخیراً خبر داده اند که مدیران هژده موسسه از جمله موزیم های سن پترزبوگ و نیویارک با امضای اعلامیه ای گفته اند که مجموعه نمایشی آنها نقش موزیم سراسری جهان را داشته و فعالیت آنها به نفع همه جهان است.

بدین گونه این مهم ترین موزیم های جهان اعلام داشته اند که آثار باستانی گرد آورده شده در موزیم های شانرا به کشور های مربوط و مبدا انها مسترد نخواهند کرد.

در این اعلامیه آمده است که مردم امکان یافته اند تمدن های باستانی را به خاطر وجود این موزیم ها که دسترسی به آثار باستانی هنری و قومی را فراهم می کنند. بهتر در ک و قدردانی کنند. این اعلامیه در پی اوج گیری و پا فشاری در خواست های مبنی بر باز گردانیدن آثار باستانی که طی قرون متمادی از منابع اصلی آنها به گونه ها و زرایع مختلف بیجا ساخته شده و به این موزیم ها انتقال یافته صادر گردیده است.

" مرمر های الگین" ، "برنزهای بنین" که فعلاً در موزیم بریتانیا نگهداری می شوند از جمله آثار جنجال بر انگیز اند همچنان درخواست کشور ترکیه در رابطه با باز گردانیدن " قربانگاه پرگامون" که در برلین نگهداری می شود جنجال های تازه یی را بر پا کرده است چه این کشور (ترکیه) توانسته بود در سال ۱۹۹۳، ۳۶۳ قطعه طلایی نقره یی، سنگ های قیمتی، نقاشی ها و مجسمه های مربوط به ساحه نفوذ خویش را پس از رای محاکمه به نفع در خواست ترکیه از "موزیم هنری مترو پولتین" نیویارک بدست آورد.

گر چه این اقدام پیش گیرانه مبنی بر عدم استرداد آثار گرانبهای باستانی به کشور های اصلی و مبدا تصریح می کند که تصاحب آثار باستانی در عصر های گذشته را نمی توان با تجارت غیر قانونی اشیای عتیقه که امروز در جریان است مقایسه کرد اما هوشدار های را هم نهفته دارد بدین معنی که در اعلامیه گنجانیده شده که "اگر موزیم ها مجسمه های یونانی را به نمایش نمی گذاشتند فرهنگ یونانی تابدین اندازه مورد تمجید قرار نمی گرفت" چه این گونه ادعا های می تواند بعداً در مواردی چون جلب توجه جامعه ملل به کشوری یا منطقه ای و یا هم موزیمی سبب شدّه قلمداد شود و کسانی از استرداد آثاری که طی سالیان اخیر از ممالک ها و موزیم های کشور های ضعیف و درگیر جنگ چون کشور ویران مان به غارت برده شده و اکنون زیب و زینت موزیم های جهان است، ابا ورزند و مراجع پر قدرت با اتکا روی سوابق رویداد ها بتوانند فیصله های محاکم، را به نفع خویش تغیر و درخواست ها در زمینه را مسترد نمایند.

با آنکه یونسکو وسایر ارگانهای بین المللی در رابطه با بازگردانیدن آثار موزیم وسایر آثار باستانی کشور افغانها تعهداتی را سپرده اند اما از آنجاییکه "مارگزیده از ریسمان دراز می ترسد" این اعلامیه مایه تشویش برای باشنده گان سرزمین های فقیر و به غارت برده شده ای چون افغانستان می تواند محسوب شود.

گر چه موزیم بریتانیا این بیانیه را امضا نکرده است و تنها روسای موسساتی چون موزیم لوور پاریس، ریکس موزیم آمستردام ، موزیم متروپولیتن نیویارک و سن پترزبورگ در پای آن امضا گذاشته اند اما بریتانیا اعلام داشته که از این اعلامیه پشتیبانی می نماید زیرا این مکان ها (موزیم های کشور های پر قدرت جهان) بهترین محلی برای نگهداری از آثار متنازعه بین موزیم ها و کشور ها است از سوی دیگر تاکید این اعلامیه "اشیا و یاد بود های که طی دهه ها و یا سده ها ی قبل در موزیم های اروپا و امریکا قرار داده شده اند تحت شرایطی تصاحب گردیده اند که با شرایط امروز قابل مقایسه نیست" هم می تواند بحث بر انگیز باشد. زیرا معانی لغوی و اصطلاحی تجاوز دزدی، چپاول، غارت، قاچاق و دادستد های غیر قانونی طی سده های متمادی از دوره زیست با بای عالم تا کنون پا بر جاست، پس روی کدام استناد می تواند این موارد و این شرایط با شرایط و موارد امروزی قابل قیاس نباشد.

سیاووش جمال

د غازو د نل لیکې لیږدول سیاسي....

ځلورم : ددې پروژې په عملي کولو کې هندوستان ته هم ګټه رسیږي مګر هندوستان د پاکستان د بنسټیزې ونډې له امله شك او تردید درلود.

ددې پورتنیو هېوادونو د توافقونو او مخالفتونو سره سره د امریکې د یونیکال کمپنۍ هوډمنه وه چې دا پروژه پر مخ بوځي او هم ددې کمپنۍ سره د امریکې پخواني سفیر رابرت اوکل په پاکستان کې د ۱۳۶۷ تر ۱۳۷۱ په کلونو کې چارلي سنتوز چې د بینان سوان مرستیال (۱۳۶۷-۱۳۷۱) وه همکاري درلوده. دیونیکال کمپنۍ د جاپان او سعودي عربستان ته هم ونډه ورکړې وه. دغه هلي ځلي د ۱۳۷۷ کال پورې ښه په تندی روانې وې مګر کله چې طالبانو د ۱۹۹۸ کال د اګست په لومړۍ اونۍ کې د بلخ ولایت او د شمال ولایتونه ونیول نو ددې سره د امریکې په سفارتخانو په کینیا او تانزانیا کې بریدوندونه وشول نو امریکې د۱۹۹۸ د اګست په اته ویشتمه د القاعده د شبکې د مینځه وړلو په خاطر په خوست د کروزو حملې پیل کړې. ددې توغندیو د وړلو څخه وروسته د امریکې او طالبانو اړیکې خرابې او د یونیکال کمپنۍ هم خپله مخه وکړه.

نو دادی بیا د ۱۳۸۱ کال د غویې د میاشتې څخه وروسته د افغانستان، ترکمنستان او پاکستان چارواکو له خوا د غازو د نل لیکې د غزونې غونډې روانې دي دا خل افغانان هیله مند دي دداسې اقتصادي پروژې د پیل کولو لپاره باید لومړی امریکا اخلاص وښایي دویم د پاکستان د افغانستان د متقابل احترام په فضا کې ددې کار د عملي کولو لپاره ګام پورته کړي او بیا دریم د ایران اسلامي جمهوریت او د روسې دولت ته پکار ده چې د افغانستان سره د بیا رغونې په کار کې لا زیاتې مرستې ونه سپموي تر څو د افغانستان اقتصادي حالت په پښو ودریږي که چېرې په افغانستان کې د بیا رغونې او په تېره بیا دداسې سترو اقتصادي پروژو کار پیل شي نو د سیمې څخه به د مخدره موادو او تروریزم لمنه هم په ټولیدو شي. افغانستان به د نړیوالو پاملرنې مرکز وګرځي او یو شمېر هېوادونه به د پانګې اچولو پکار بوخت شي او هم به د مرکزي آسیا هېوادونه د هند سمندر ته لاره پیدا کړي.

ارادہ

ورزش

بمناسبت اولین سالگرد انتقال قدرت به اداره انتقالی مسابقات جالب بزکشی براه انداخته شد

به مناسبت اولین سالگرد انتقال قدرت به اداره انتقالی اسلامی افغانستان عصر روز یکشنبه اول جدی مسابقات بزکشی در کلوپ سپورتی اردو براه انداخته شد، بخاطر تماشای این مسابقات محترم مارشال فهیم معاون اول دولت انتقالی اسلامی و وزیر دفاع ملی، دگر جنرال بسم الله خان قوماندان عمومی گارنیزون کابل و معاون وزارت دفاع ملی، ملا تاج محمد مجاهد والی کابل، دگر جنرال محمد ظاهر قوماندان عمومی امنیت نظامی، سید محمود ضیا (دشتی) معاون کمیته ملی اولمپیک، دگر جنرال کرام الدین رئیس دفتر وزارت دفاع ملی، قوماندان گل حیدر خان، داکتر تاج محمد قوماندان فرقه ۵۵ و عده یی از جنرالان ارشد اردو، روسای ادارات دولتی، ژورنالستان داخلی و خارجی، علاقمندان وهمشهریان کابل حضور بهم رسانیده بودند.

در آغاز مسابقات چاپ اندازان "پنجشیر" مقابل تیم آریا قرا گرفتند، که طی آن چاپ اندازان پنجشیر هر یک:

پروان و کاپیسا با هم رو برو شدند که در نتیجه سید معصوم پهلوان به سواری اسپ سردار خان، شیرین آغا پهلوان به سواری اسپ نور حبیب خان، نور احمد پهلوان به سواری اسپ شاه زمان خان، قلعه داد پهلوان به سواری اسپ عبدالمبین خان، محمد علیم پهلوان به سواری اسپ قوماندان عبدالرشید رئیس عمومی تیم های بزکشی صفحات شمال از تیم پروان و ورزشکاران تیم بزکشی کاپیسا هر یک دین محمد پهلوان، عبدالمنان پهلوان، الحاج تعده قل به سواری اسپ های خودشان امتیازاتی را بدست آوردند و در نتیجه تیم پروان توانست ۱۸ مقابل ۳ بر تیم بزکشی کاپیسا غالب گردد.

گزارشگر اراده می افزاید: بعداً مسابقات "آخر الاتی" بین چاپ اندازان پنجشیر، پروان، کاپیسا و آریا آغاز گردید که طی آن عزیز احمد پهلوان به سواری اسپ الحاج مقیم از تیم پنجشیر گوساله را از بیرق عبور داده و دین محمد پهلوان از تیم پنجشیر به سواری اسپ تاج محمد خان آن را به دایره حلال رسانید.

در یک کوشش دیگر عزیز احمد پهلوان به سواری اسپ الحاج مقیم از تیم پنجشیر توانست گوساله را از بیرق عبور داده و خود به دایره حلال برساند.

درین مسابقات بزکشی تیم بزکشی پنجشیر با گرفتن (۲۱) امتیاز مقام اول تیم بزکشی پروان با بدست آوردن (۱۸) امتیاز مقام دوم، تیم بزکشی کاپیسا با اخذ (۳) نمره مقام سوم و تیم بزکشی آریا با گرفتن (۲) نمره در ردیف چارم مسابقات بزکشی قرار گرفتند.

در ختم مسابقات مکافات نقدی از جانب الحاج مقیم آمر عمومی بزکشی پنجشیر به آن عده از چاپ اندازانی که گوساله را از بیرق عبور داده و یا به دایره حلال رسانیدند اهدا گردید.

آوردند همچنان چاپ اندازان تیم آریا هر یک عبدالعزیز به سواری اسپ عبدالکریم و خالقداد به سواری اسپ عبدالوحید خوب درخشیدند. در نتیجه دور اول تیم بزکشی پنجشیر ۲۱ مقابل ۲ امتیاز بر تیم بزکشی آریا غالب گردید.

در دور دوم مسابقات تیم های بزکشی پروان و کاپیسا با هم رو برو شدند که در نتیجه سید معصوم پهلوان به سواری اسپ سردار خان، شیرین آغا پهلوان به سواری اسپ نور حبیب خان، نور احمد پهلوان به سواری اسپ شاه زمان خان، قلعه داد پهلوان به سواری اسپ عبدالمبین خان، محمد علیم پهلوان به سواری

اسپ قوماندان عبدالرشید رئیس عمومی تیم های بزکشی صفحات شمال از تیم پروان و ورزشکاران تیم بزکشی کاپیسا هر یک دین محمد پهلوان، عبدالمنان پهلوان، الحاج تعده قل به سواری اسپ های خودشان امتیازاتی را بدست آوردند و در نتیجه تیم پروان توانست ۱۸ مقابل ۳ بر تیم بزکشی کاپیسا غالب گردد.

گزارشگر اراده می افزاید: بعداً مسابقات "آخر الاتی" بین چاپ اندازان پنجشیر، پروان، کاپیسا و آریا آغاز گردید که طی آن عزیز احمد پهلوان به سواری اسپ الحاج مقیم از تیم پنجشیر گوساله را از بیرق عبور داده و دین محمد پهلوان از تیم پنجشیر به سواری اسپ تاج محمد خان آن را به دایره حلال رسانید.

همچنان حلیم پهلوان به سواری اسپ خودش از تیم آریا گوساله را از بیرق عبور داده و عبدل پهلوان به سواری اسپ الحاج مقیم از تیم پنجشیر آن را به دایره حلال رسانیدند اهدا گردید.

گزارش می افزاید: هیت همچنان از جریان تمرینات تیم ملی تیکواندو دیدار نمودند و اظهار داشتند که واقعاً ورزشکاران افغانی از استعداد خارق العاده برخوداراند. ضمناً تحایفی نیز به ورزشکاران توزیع نمودند.

گزارشگر صفحه سپورت اراده می افزاید، همچنان هیت متذکره و محترم محمد انور جگدلگ رئیس عمومی تربیت بدنی و سپورت و کمیته ملی اولمپیک و شاروال کابل در جاییکه جمعی از اهل خبره ورزش حاضر بودند از تاسیسات و اماکن ورزشی چون جمنازیوم پوهنتون کابل، جمنازیوم پوهنحی تربیت بدنی، جمنازیوم پیدا گوژی کابل، قصر دارالامان، کلپ ورزشی نورستان، کلپ کیک بوکس میهن پوهنتون تعلیم و تربیه دیدار بعمل آورده و با ورزشکاران صحبت های انجام داده مشکلات آنها را بر رسی نمودند. هیئت ضمن توزیع یک مقدار البته سپورتی به ورزشکاران به کمیته ملی اولمپیک افغانستان وعده سپردند که در ترمیم و احیای مجدد جمنازیوم ها و میدان های سپورتی از بذل هیچ گونه کمک و مساعدت دریغ نمی ورزد.

به همین ترتیب هیئت شورای اولمپیک آسیایی از مقر کمیته ملی اولمپیک دیدن نمودند. و ملاقاتی جداگانه ای را با رئیس عمومی کمیته ملی اولمپیک روی مسایل ورزشی انجام داده‌و تحایفی را که از طرف رئیس عمومی کمیته ملی اولمپیک تهیه شده بود. با تشکر پذیرفتند.بعداً از جریان تمرینات تیم های فوتبال هاکی، باسکتبال‌و مسابقه جالب بایسکل رانی معیوبین در استدیوم طی ورزشی دیدار بعمل آوردند. و تحدایفی به ورزشکاران توزیع نمودند.

هیت ملی اقامت شان در کابل از مسابقات جالب و دیدنی بزکشی در کلوپ سپورتی اردو که بین تیم های بزکشی پروان و کاپیسا جریان داشت دیدن نمود که مورد دلچسپی و علاقمندی ایشان قرار گرفت در ختم مسابقه که مساویانه پایان یافت تحایفی که از سوی فدراسیون بزکشی تهیه شده بود به هیئت اهدا شد همچنان هیئت از جریان تمرینات ورزشی بخش های مختلف کلوپ سپورتی امنیت ملی دیدار بعمل آورده و ملاقاتی را با بابای ملت در اقامت گاه شان انجام دادند بابای ملت تشریف آوری هیئت مذکور را خیر مقدم گفته و آرزو نمودند که کمیته ملی اولمپیک و ورزشکاران افغانستان بتواند از طریق کمک های شورای اولمپیک آسیایی موقف اصلی خویش را در جامعه بین المللی باز یابد. در مقابل هیئت یکبار دیگر وعده سپرد که با کمیته ملی اولمپیک افغانستان از بذل هیچگونه کمک و مساعدت بخاطر رشد وتوسعه ورزش در افغانستان دریغ نورزند. به همین ترتیب تحایفی که از طرف رئیس شورای اولمپیک آسیایی تهیه شده بود توسط معاون دایرکتر جنرال اولمپیک آسیایی به بابای ملت احتراماً سپرده شد. روز ۲۶ قوس هیئت اولمپیک آسیایی ملاقاتی را با محترم محمد انور جگدلگ شاروال کابل و رئیس عمومی کمیته ملی اولمپیک در مقر شاروالی کابل انجام دادند.

درین ملاقات روی باز سازی شهر کابل و موضوعات ذیعلاقه صحبت نمودند. که از جانب شاروال کابل بعنوان حسن نیت کلید یادگاری شهر کابل به هیئت شورای اولمپیک آسیایی سپرده شد بعداً هیئت چهار نفری از جریان تمرینات بخش کاراته دیدار بعمل آوردند و موفقیت بیش از پیش برای ورزشکاران و دست اندرکاران ورزش افغانستان تمنا نمودند.

هیئت مذکور شورای اولمپیک آسیایی بساعت دوازده و نیم همانروز کابل را بقصد مرکز شان ترک گفتند.

عبدالرحمن

هیئتی از اولمپیک آسیایی وارد کابل شد

بتاریخ ۲۴ قوس سال روان هیت با صلاحیت شورای اولمپیک آسیایی وارد کابل شد. هیت چهار نفری شورای اولمپیک آسیایی شامل آقایان حسین المسلم معاون دایرکتر جنرال شورای اولمپیک آسیایی، حیدر فرمان، امیریت مسوول روابط اولمپیک ها و علی عضو شورای اولمپیک آسیایی، در میدان هوایی کابل توسط محترم محمد انور جگدلگ شاروال کابل و رئیس عمومی کمیته ملی اولمپیک با هیت رهبری کمیته و برخی از مامورین عالیرتبه دولتی پذیرایی شده. به محل اقامت شان به هوتل انترکانتینتال رهسپار شدن.

طبق یک خبر دیگر رئیس هیت و اعضای آن بعد از ظهر روز ۲۴ قوس ملاقاتی را با محترم مارشال فهیم معاون اول و وزیر دفاع ملی دولت انتقالی اسلامی افغانستان در قصر گلخانه انجام دادند. درین ملاقات ابتدا معاون و سرپرست دولت انتقالی اسلامی افغانستان ورود هیت شورای اولمپیک آسیایی را به کابل خوش آمدید گفتند وسفر ایشان را بخاطر بهبود وضع ورزش در افغانستان مفید و پر ثمر تلقی نمودند. سپس آقای حسین المسلم رئیس هیت و معاون دایرکتر جنرال شورای اولمپیک آسیایی پیرامون سفر هیت به افغانستان و هدف شان به محترم مارشال فهیم معلومات ارائه نموده، وعده سپردند که کمیته ملی اولمپیک افغانستان را همکاری نموده و اولمپیک افغانستان را عضو دایمی فامیل اولمپیک اسیایی دانسته و میدانند.

هم چنان تحفه ای که از طرف رئیس شورای اولمپیک آسیایی به محترم حامد کرزی رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان تهیه شده بود به مارشال فهیم سپرده شد. بالمقابل تحایفی از ضایع ملی کشور از طرف معاون اول دولت انتقالی به هیت متذکره اهدا گردید.



ورزشکاران افغان در مقام سوم جا گرفتند

ورزشکاران افغانی در مسابقات آسیایی "کورش" در سکوی سوی تکیه زدند. تیم ۷ نفری ورزش "کورش" افغانستان که بنا به دعوت رسمی فدراسیون آسیایی غرض شرکت در دومین دور بازیهای آسیایی (کورش) عازم هندوستان شده بودند اخیراً موفقانه بوطن باز گشتند. در ترکیب تیم این ورزشی محترم محمود ضیا (دشتی) معاون اولمپیک و رئیس فدراسیون (کورش) بصفت رئیس هیت عبدالناصر (هوتکی) سکرتر جنرال فدراسیون و غلام فاروق مانی بحیث اعضای هیت، ذکریا اسری مربی تیم، در محمد فقیر مل، محمود شاه مشکل و نقی شاه جلالی بصفت ورزشکار سهم داشتند، درین مسابقات (۱۲۰) ورزشکار از ۲۲ کشور آسیایی شرکت جسته بودند که ورزشکاران افغانی در آن خوب درخشیدند در کلاس ۶۶ کیلو گرام درمحمد فقیرمل توانست به حریف جاپانی اش بر تری حاصل نماید و بمقام سوم دست نایل آمده مدال برونز را از آن خود سازد. در نتایج تیمی ازبکستان حایز مقام اول، تیم ایران مقام دوم را نصیب شد. در ختم مسابقات مدال های قهرمانی وزن ۹ کیلویی این دور مسابقات توسط سیدمحمود ضیا دشتی معاون کمیته ملی اولمپیک در جمنازیون تلکه تورا توزیع گردید.

مدال او افتخاري ورزشي

ديهلومونه وويشل شول.

فیفا د افغانستان د سپک کړه

د فوټبال نړیوال فدراسیون "فیفا" یوپروګرام تر لاس لاندې نیولی چې د "کول پروګرام" په نامه یادیږي ددې پروګرام موخه په جګړه ځپلو هېوادونو او پرمختیایي هېوادونو کې د فوټبال لوبې ته وده او پراختیا ورکړي. چې په دغو هېوادونو کې افغانستان هم شامل دي او دسمبر په ۳۱ نېټه به تاکل شوي مالي برخه ورکړل شي ددې پروګرام د پیلیدو د مخه به د فیفا د څیړونکو یوه ډله به افغانستان ته راشي چې شرایطه او امکانات وڅیړي دغه پروګرام په نظر کې لري چې افغانستان او ورته نورو هېوادونو ته د ځلور کلونو لپاره هر کال دوه لکه پنځوس زره ډالر ورکړي تر څو د فوټبال لوبې ته وده او پراختیا ورکړي. د فیفایوه مامور ویپمن د افغانستان په اړه وویل، ما خپله د افغانستان د سفر څخه وروسته ځلوبښت پاڼې لیکلی دي او دغه هېواد باید "د خوانانو لپاره د فوټبال د لوبې په پراختیا او وده کې ډېر څه وکړي.

خنګه په وار، وار ورزشي تحفې لکه توپ، د سپورت کالي او داسې نور د تحفې په شکل رانه راکړ شویدي هغه د یوه ښه ورزشکار د اوصافو په هکله د څرګندونو په ترڅ کې زیاته کړه:

د ورزشکار لپاره په کار دي، چې تل خپل تمرین وکړي او په هغه رشته کې چې دده ورسره شوق او علاقمندي ده، پوره او کافي معلومات تر لاسه کړي.

د خپلو ترینرانو خبرو ته غوږ کېږدي د هغوی لارښوونې عملي کړي او ددې تر څنګه د بهرنیو لوبغاړو د لوبو په نندارو سره د خپلې خوښې د لوبو په نویو تاکتیکونو خان بلد کړي.

هغه په پای کې وویل:

خونسردي، په متداومه توګه تمرین کول او په سیالیو کې د مقابل ټیم د غړو سره ښه چلند د ښه ورزشکار د خصوصیاتو څخه دی، او دغه یې د بریالیتوبونو راز شمېرل کېږي.

په آسیایي لوبو کې د افغاني سوک وهونکو کېدون

د سوک وهلو آسیایي سیالۍ څه موده وړاندې په کوریا کې تر سره شوې.

په ۲۰۰۲ کال کې په بهلابهلو څانګو کې د ۴۲ هېوادونو لوبغاړو د کوریا په هېواد کې ځینې سیالۍ تر سره کړې چې زمونږ د هېواد څخه د اولمپیک د ملي کمیټې شپږو تنو سوک وهونکو په دغه سیالیو کې ګډون وکړ.

په دغه سیالیو کې د ګډون لپاره زمونږ د هېواد څخه محمد داود په ۴۸ کیلو ګرامه وزن کې سید روح الله (مصطفی) په ۵۱ کیلو ګرامه وزن کې، تمیم احمد (اختری) په ۶۰ کیلوګرامه وزن کې، سید هارون (سادات) په ۶۳ کیلو ګرامه وزن کې، محمدصادق (نقشبندی) په ۶۷ کیلو ګرامه وزن کې عبدالله (شکیب) په ۷۱ کیلو ګرامه وزن کې او استاد محمد معروف (اغبت) د ټیم ترینر د کوریا هېواد ته تللی و.

ددغو سیالیو په پای کې د جنوبي کوریا د سوک وهلو د فدراسیون د رئیس له خوا په افغاني لوبغاړو یې، یو د سرو زرو

د دری سوو څخه په زیاتو سیالیو کې ګډون

د هغې مینې او شوق له مخې مې چې د فوټبال لوبې سره لرله لس کاله مخکې مې دغې لوبې ته مخه کړه، او په دې موده کې مې د هېواد په دننه په بېلابېلو ولایتونو کې د دری سوه څخه په زیاتو سیالیو کې ګډون کړې دی.

پورتنۍ څرګندونې عبدالله عادل د شیوا د فوټبال د ټیم ګولکیپر د ارادې د خبریال سره د یوې مرکې په ترڅ کې وکړې او زیاته یې کړه:

ما خپل لومړی ورزشي فعالیت د روستا د فوټبال په ټیم کې پیل کړ، پوره پنځه کاله مې په دغه ټیم کې لوبې وکړې بیا وروسته د شیوا دفوټبال ټیم ته راغلم او دادی پنځه کاله کېږي چې په دغه ټیم کې خپل ورزشي فعالیتونه کووم. او ددې تر څنګه اوه کاله کېږي چې دکابل د B منتخب ټیم غړی یم.

نومورې ددې پوښتنې په خواب کې

ما مخکې وویل چې د دری سوو څخه په زیاتو سیالیو کې مې ګډون کړېدی په دغو سیالیو کې د غوره کارکولو له کبله تر اوسه په دوه تقدیر نامو او یوه مډال ستایل شوی یم، او ددې تر

د فواید عامی وزیر

میاشتو اویا یوه کال کې دا غوښتنې نه تر سره کېږي، هېوادوال پوه دي، چې د لویو پروژو د کارونو د چارو برابرول څه ساده او آسانه خبره نه ده ، دغې پروژې مطالعه، سروی دیزاین او د تخنیکي اسنادو جوړولو ته اړتیا لري او ددغو ټولو کارونو د تر سره کولو څخه وروسته بیا باید کمپنې دعوت او راوغوښتل شي او قرارداد ورسره وشي، چې د دغو ټولو چارو تر سره کول وخت او زمان ته ضرورت لري.

او اوس به د هغو پروژو په هکله خبرې وکړم چې د هغوی چارې مو نهایي حدته رسولی دي.

د کابل، جلال آباد د لویې لارې دسروی او دیزاین چارې مو پای ته رسولی دي او له هغه ځایه چې زمونږ د هېواد والو تګ او راتګ په دغه لار ډېر زیات دی، نو هېوادوالو ته د آسانتیا او دهغوی د ستونزو د لرې کولو په خاطر مو ددغې سړک د اوارکاری کار نږدې پای ته رسولی دی. ددغې سړک د قرارداد چارې نهایي شوی خود دادوطلبي چارې یې لاتر اوسه پای ته نه دی رسیدلی.

خبریال: فکر نه کوي چې که ددغه سړک اساسي کار ژر پیل نشي ژمني اورښتونه به ستاسو ټوله خواري په سیند لاهو کړي؟

د فواید عامی وزیر:

مونږ ددغه سړک بنسټیز کار یعني د هغې اوارکاري کار چې یو عاجل ضرورت وو تر سره کړي، او ددغې سړک د خرابیدو د مخنیوي لپاره مو دغې سړک ته یوه د حفظ او مراقبت ډله توظیف کړېده چې هیله مندیو له خوا نه بلکې د بلخ ولایت له خوا پیل کړو، ما اوس، اوس اطلاع تر لاسه کړې چې دغه پلونه او د هغې ضروري مواد د ترمز بندر ته رسیدلي دي، او دا کار به ډېر ژر پیل شي.

زمونږ بله مهمه پروژه د کابل، کندهار، هرات پروژه ده، ددغې پروژې کار چې تمویل کوونکی یې امریکا، جاپان او سعودي عربستان دی څه موده وړاندې پیل شو او د شپږ څلویښت کیلو مترو په شاوخوا کې سړک پوخ شوی دی، او که د غزني او وردګو ولایتونو کې دهوا د سړښت درجه په راتلونکي کې ډېره ټېټه نشي مونږ به خپل کار ته دوام ورکړو. د یادولو وړ یې بولم چې په دغه سړک به څلور میاشتې وروسته د جاپان هېواد د کندهار له لورې د کابل خوا ته خپل کار پیل کړي.

د کندهار، سپین بولدک سړک چې د اسیایي بانک له طریقه د جاپان له مرستو څخه جوړېږي، کار پرې پیل شوی او همدا اوس هم کار وربانډې روان دی، چې هیله مندیو ددغې سړک د جوړیدلو کار به ډېر وخت ونه نیسي.

بله پروژه چې کار یې پیل شوی هغه د هرات، اسلام قلعه سړک دی چې د جوړېدو چارې یې د ایران له خوا او دهغوی په مرسته تر سره کېږي چې ددغې سړک کار هم په سلو کې خلویښت پر مخ تللی.

خبریال: د اوړېدو له مخې په دغه سړک کار په ټېټه ولاړ دی، ولې؟

د فواید عامی وزیر:

د دغې سړک د کار د خنډ پدلو سبب د ایران د دولت او دهغې کمپنۍ تر منځ چې په دغه سړک کار کوی د خینو مالي ستونزو له کبله دي. چې هیله لرو ډېر ژر به دغه ستونزه حل شي او د سړک کار به بیا پیل شي.

هغه نورې پروژې چې مونږ یې کار د لاس لاندې لرو عبارت دی له :

کابل - بامیان د سړک چې دایتالیا له خوا ددغې سړک د جوړېدو په خاطر پنځلس ملیونه ډالره ورکړ شویدي چې همدا راز دامکان په صورت کې به دغه سړک بیا د بامیان - هرات ولایت ته وغزېږي چې په دې ډول به د کابل، هرات تر منځ واټن تر ۴۰۰ او ۴۵۰ کیلو مترو پورې لنډ شي.

همدا راز د هرات، بادغیس، فاریاب، جوزجان حلقوي سړک هم زمونږ دمطالعې او څېړنې لاندې دي ،چې ددغو سړکونو په جوړېدو سره به د هېواد حلقوي سړک مکمل شي او هېوادوالو او ګاونډیو هېوادونو ته به ډېرې آسانتیاوې برابرې شي زه په نږدې راتلونکي کې دهمدې سړک د جوړېدلو په هکله د خبرو، اترو لپاره تاجکستان ته روان یم، او دهغه ځایه به بیا ازبکستان ته ځم تر څو ددغه سړک لپاره تمویلوونکی پیدا کړم.

خبریال: په دې هکله نه غواړې د ایران سره خبرې وکړې؟

د فواید عامي وزیر: په دې هکله مو مخکې د ایران سره خبرې تر سره کړې دی.

زمونږ نوري پروژې د جلال آباد، کابل سړک د لته بند له لارې دی چې کار به یې د پاکستان له خوا تر سره کېږي، بې له شکه به مونږ په راتلونکی کې قوي ترانزیت ولرو او د جلال آباد- کابل سړک د دارنګه ترانزیت لپاره کافي نه دی نو غواړو چې ددغې سړک په جوړېدو سره لویې او ښارونکې موټرې په دغه لار او د سپرلیو او وړې موټرې به په موجوده سړک تګ او راتګ کوي.

د زرنج- دل آرام د سړک د سروی او دیزاین چارې هم د هندوستان له خوا پیل شویدي، چې د سروی او دیزاین د کار د پای ته رسیدو څخه وروسته به ددغې سړک د اساسي کار د پیل کېدو چارې داوطلبي ته وړاندې کړو، چې هیله لرو پر دغه سړک هم ځلور میاشتې وروسته کار پیل شي.

د ایکو غونډه په تاجکستان کې پیلیدونکی ده چې په دغه غونډه کې زه هم د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د فواید عامی د وزیر په توګه په کې ګډون کوم، په دغه غونډه کې به زمونږ په هېواد کې د اورګاډي د پټلیو دغزولو په امکاناتو خبرې، اترې وکړو او هیله لرم چې ددغې غونډې څخه هم ډک لاسونه راستانه شو.

پورتني یاد شوي کارونه د تخنیکي لحاظه ساده او آسانه کارونه نه دي چې مونږ تر سره کړي، دا هغه کارونه وو، چې ددوی پر بنسټ به زمونږ اساسي کارونه پیل شي او زه په دې باور یم چې په راتلونکی کال کې به مونږ د یونیم زر څخه تر دوه زرو کیلو مترو سړک باندې اساسي کار پیل کړو، چې په دې توګه به زمونږ په زرهاوو تنه هېوادوال هم د کار خاوندان شي. زه نور څه د ویلو لپاره نه لرم، که بله پوښتنه لرې مهرباني وکړه.

خبریال: مننه، هیله لرم چې د یادو شوو پروژو کار تحقق وموميږ، او بل ځل ستاسو سره په خبرو کې هېوادوال د خینو پروژو د کارونو د جریان او د خینو پروژو د کارونو د پای څخه خبر کړو. یو ځل بیا مننه

د کابل پوهنتون...

مشکلاتو ته په توجه سره باید دغهٔ پوهنتون په ۱۳۸۲ کال کې د کلمی په رښتیني معنی سره د داسې علمي مرکز بڼه غوره کړی کوم چې پخوا یې لازه او کوم چې اوس په ګاونډیو هېوادو کې دی.

هم محصل، هم استاد او هم ټول پوهېږي چې هېواد مو له شل کلنی جګړې څخه راوتلی او په هره برخه کې زیاتې ستونزې شته خو له دې ټولو سره پوهنتون داسې موسسه نه ده چې ورته په کمه وکتل شي او یا د نورو عادي موسسو په ردیف کې راوسټل شي.

د علم پوهې او پرمختګ کاروان روان دی او مونږ ورځخه زیات وروسته پاتې یو له دې نه زیات وروسته کېدل جرم دی. ګناه ده، شرم دی او له خپل خان، خپلو بچیانو اوملت سره جفا ده.

نو ۱۳۸۲ کال باید د کابل پوهنتون د بنسټیزې بیا رغونې کال وي او په راتلونکې تعلیمي کال کې باید د علم او پوهې د زده کړې د کلونو کلونو تږیو مینه والو ته د پراخ جلب اوجذب زمینه برابره شي او اجازه ورنکړي چې بیا هم د علم مینه وال خوانان مو پردیو هېوادوته د زده کړې د سوال له پاره مخه کړي او په پای کې مو د مغزو دتیښتې لړی دوام وموميږ.

غ، حضرت رحیمي

عاقبت در حاشیه گذاری...

خواستند آزاده گی را ببالند، دریافتند که لایه، از سیاهی و دود، حول و حوش شان را فرا گرفته و بارانی از آهن پاره های مذاب، به روی خانه ها، منازل مسکونی، باغات و مزارع شان فرود می آید، تخریب میکند، می سوزد و جان می ستاند. و بالاخره همه شاهدیم که این همه پس زدن و کم زدن و نادیده گرفتن و بی بهایی و کم نهایی و کشتار و ویرانگری را، جامعه در نفس خویش تحمل نتوانست و در میان دود و آتش، طالب را که خاضعانه سوگند ایمان و صداقت و خدمت گذاری می خورد به حیث بدیل برگزید. وآنروز هیچ توپ و تفنگ و دم و دستگاهی در مقابله با طالب کارگر نیفتاد. طالب در شمایل "گربه، عابد" تزویر گر بود وشیی از آب در نیامد که جامعه بتواند آنرا هضم کند. آنچه که انجام داد، نمایاند که دست سلف خویش را از پشت بسته است و هزار بار بیگانه تروبی رحم تر از ویرانگران قبلی شهر ها و روستا ها، عمل کرد. شاید بی ۵۲ زمانی داخل عمل شد و کارگر افتاد که جامعه در نفس خویش سعی داشت، طالب را نیز استفراغ کند، حالا اگر بی ۵۲ و همکاران آن پندارند که یکسره فاتح میدان های نبرد علیه طالبان اند، تکرار اشتباه نسل های جنگ دوران مقاومت و پس از مقاومت به شمول طالبانست که با در حاشیه گذاری مردم می پنداشتند، که تا ابد "کوزه کرو کوزه خر و کوزه فروش" باقی خواهند ماند که نه ماندند.

جامعه با عبور ازین بست های که یکسره تقلا برای زنده ماندن بود، امروز می خواهد زندگی کند و در تمام امور زندگی- سیاسی، اقتصادی، اجتماعی، تصمیم گیرنده، مشوره دهنده وحتی مجری باشد. تحقق این آرزو ها را در سیمای اداره، که خود آن را برگزیده است، جستجو دارد. دیگر مردم نمی خواهند و نخواهند گذاشت که در حاشیه قرار داده شوند. از اداره انتقالی می خواهند گام های اساسی را در راستای خواسته هایشان که تطبیق پروگرام خلع سلاح، تشکیل اردوی ملی و مبارزه با پدیده های منفی، رشوت، دزدی حق تلفی و زورگویی است، بر دارد که متاسفانه رشوت هست، حق تلفی هست، زیاده گویی هست، بی باز خواستی هست و بالاخره بی قانونی هست و باز بار این همه ناهنجاری ها را به روی شانه های مردم کرده اند که ادامه، چنین وضعیت عاقبت خیر برای آنانی که قول خدمت گذاری به مردم داده اند، ندارد. و از تحمل نفس جامعه در آینده خارج است.

غلام غوث

نامه ی سر گشاده

از آن جاییکه قضاوت اجتماعات و اظهار رای و اراده آنان در طول تاریخ و در جوامع گونه گون همیشه یکسان و مبنی بر واقعیت های موجود استوار بوده است وضعیت کنونی و روند جاری در کار اداره انتقالی اسلامی بخصوص در عرصه های عرضه خدمات اجتماعی و مشخص تر توزیع آب و برق در شهر کابل سبب گردیده تا مردم "دعای سر کفن کش سابق"را بکنند.

مردم اظهار رای وعقیده می کنند، این حق ایشان است بیان سر نوشت رژیم های که کوشیده این حق را غضب کنند طوالت کلام را باعث خواهد بود، شهریان کابل به صراحت از موجودیت نظم در توزیع آب و برق در حاکمیت طالبان سخن می گویند و آنرا بی هراسبر رخ هم می کشند، مردم از چراغان بودن قصرهای اولیای امور و وابستگان شان آنهم بگونه بیست وچار ساعته به تنگ آمده اند. این کجای انصاف و عدالت است آقایان متصدی امور کشور که خانه ها نشیمن گاه مهمانخانه ها قصر ها، سرای ها و حتی دکان ها و مارکیت های مربوط به شما بیست و چار ساعت از انرژی برقی گرم و روشن باشد که حق خالص و بی دغدغه ملتی است که شما را پرورده و به امامت خویش برگزیده و کلبه سر د و تاریک این ملت بیچاره در هفتاد و دو ساعت تنها یک ساعت برق داشته باشد.

آقای وزیر برق چه شد وعده های خدمت گذاری تان، کجاست پیامد سفر های پر مصرف تان مردم می خواهند بدانند که شما با کدام صلاحیت حق شانرا به اشنایان و وابسته گان تان می بخشید. جناب وزیر صاحب برق شما می دانید که گماشته گان تان در خیرخانه مینه استحقاق نوبتی برق باشنده گان حصه دوم آن پروژه یعنی منطقه قلعه نجارها الی خشت هوختیف را که مربوط برج هفتم شما می شود می فروشند ساکنان این منطقه از یکماه بدینسو در هر هفتاد و دو ساعت صرف و صرف ۴۵ الی ۶۰ دقیقه روشنی برق را شاهد بوده اند و بس.

حضور وزیر صاحب مردم ما یعنی آنهاییکه شما و ما از میان آنها برخاسته ایم به این اصل ایمان دارند: "سنگی را که زورت نرسید بوسیده بر جایش بگذار!"

اگر فشار های داخلی و خارجی صلاحیت وظیفوی را از شما سلب کرده است، اگر کار بر خلاف رای و اراده شما به پیش می رود، اگر نمی گذارند حق را به حقدار برسانید، بیائید برگردید بیایید در صف بیچاره گان ، در صف ملت فقیر و به چپاول برده شده گان بیوندید، این ملت از شما قدر خواهد کرد در غیر اگر همین آش باشد و همین کاسه عاقبت کار ها را وخیم می بینم.

غزل

د رومي خو څرګنده نه ده کومه لار به ونیسي
دا سر به په دار شي که د لیچو هار به ونیسي
را به شي دستورو په لباس کې لکه سپین بازان
سره کفار به ونیسي او تور کفار به ونیسي
خدای به یې بیا پاکه کړي د سپین سهار په سپین دسمال
هو منم د لمر ښیښه د شپې غبار به ونیسي
بین د مستې مینې به راواخلي د مولا په نوم
لال به تري ولجه کړي بې اودې ښامار به ونیسي
زړه لري بې زړه نه دی یو څوک خو به پرې ولمانځي
ګوره یې په نن سبا کې ښکلی یار به ونیسي
بیا به مرغلري د فرعون له ډیرې وشکوي
وخت لاس د ماشوم موسی دی سور انګار به ونیسي
را به شي، په پښو به یې بیا پر یوزي چې پخلا یې کړي
سپینې اوبه پښې د مرور چنار به ونیسي
رابه شي، پیدا به شي دا ورک د ارمان ستوری مو
خوله به له سپوږمی واخلي د لمر مدار به ونیسي
راغی د دردونو د کاروان سره د بره نه
خدای ته مې امید دی د سندرو ښار به ونیسي

پیر محمد کاروان

خبره دې خای ته راورسیده

یار راته لاړي د کوڅې نیولی خبره دي خای ته راورسیده
ژوند راته ګوتې په ماشي نیولي خبره دي خای ته راورسیده
نن د کابل د ښار حسنونه د وطن میوې دي
زمونږ صوفیانو تري روژې نیولی خبره دي خای ته راورسیده
په کومو سترګو ورته زه د شرمه وه ګورمه
نن د شرشم ګلان پښې نیولی خبره دي خای ته راورسیده
بابرزی ستا د کتابو پانې به څوک ولولی
دلته بینا سترګو پردې نیولی خبره دي خای ته راورسیده
زما ساده پښتانه خپل د سر سړی نه پرېږدي
څه خر ګردونه نن شملی نیولی خبره دي خای ته راورسیده

بابرزی

نهه تنه په خوست کې ونیول شول

د خوست د ولایت په اړوند و سیمو کې نهه کسه دهغه ناکامه برید په تور ونیول شول چې، د مسیح د میلاد د اختر په ورځ په هغه ولایت کې د میشته امریکایي پوځیانو په قرارګاه باندې شوی وو.

د دوه اتیایمې فرقې د ګزمې ډلی د خپلې دندې د ترسره کولو په جریان کې هغه خای چې دغه برید ورځخه شوی و کشف کړ او وروسته یې د هماغې سیمې څخه څلور تنه ونیول، چې دهغوی د ډلی څخه، دوه تنه وسله وال وو.

وروسته بیا په نورو پلټنو کې پنځه تنه نور هم ونیول شول او دهغې سیمې څخه څه نوري وسلې او مهمات هم تر لاسه شول.

In this issue:

- Kabul statement, a big step towards peace and stability
- Interview with Dr. Ali, minister of construction affairs
- A letter to minister of water and power
- Sports (interview, report and news)
- Pipeline across Afghanistan, Pakistan and Turkmenistan
- Sending of more American troops to Persian gulf
- North Korea reopens its atomic plant

ارادہ
د افغان فشراتي مرکز خپرونه

موسس و صاحب امتیاز :حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
سکرتر مسوول: سید محمد "عاذل"

ارادہ در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷

ERADA

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Fuonder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787

اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است

کمپوز و دیزاین: محمد ناصر"هاشمي" چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان

قیمت یک شماره ۲ افغانی